د جمعې ورځې د خطابت موضوع او

ليکلی تقرير او بيان چې د هیواد دمرکز او ولايات

ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

۲۳/ رمضان المبارک/۱۴۴۴ هـ، ق موافق د ۲۵/ حمل /۱۴۰۲هـ، ش

# د صدقة الفطر (سرسايي)فضيلت او احکام او دليلة القدر اهتمام

الحمد لله الذى اتاح لعباده اوقات الفضائل ومواسم العبادة ليتزودوا فيها من الاعمال الصالحة ويتوبوا الى ربهم من الاعمال السيئة وليضاعف لهم فيها الاجور ويعرضهم فيها لنفحات جوده وينزل عليهم فيها من رحمته واحسانه احمده على نعمه واشكره على جزيل احسانه. واشهد ان لا اله الا الله وحده لاشريک له شرع فيسر ورحم وغفر.واشهد ان محمدا عبده ورسوله .كان يغتنم مواسم الفضائل ويحث على اغتنامها ويحذر من اضاعتها نصحاً للامة وحرصا على جلب الخير لها ودفع الشر عنها، صلى الله عليه وعلى آله واصحابه الذين تمسكو بهديه وساروا على سنته، وسلم تسليماً كثيرا.اما بعد:

محترمو مسلمانانو ورونو ! درمضان المبارک د روژو او زکوة په شان سرسايه هم د اسلام يو امتيازي حکم دی ، د دې په ورکولو کې ډير آجرونه ، ثوابونه او فائدې دي. انسان عاجزدی ، درمضان په روژو کې د کوشش او احتياط با وجود بيا هم دده نه کمي او زياتې کيږي نو په دې سرسايه ورکولو سره روژه ددغه کمزوری او کوتاهی نه صفا کيږي ، او ورسره ورسره غريبانان هم د اختر په خوشحالۍ کې د نورو مسلمانانو سره شريکيږي

**دصدقه الفطر (سرسايي فضيلت):**

سرسايه ورکوونکې کامياب دی.الله تعالی فرمايي :(قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّىٰ) ترجمه پيشکه کامياب شو هغه کس چې پاک شو .
علامه ابن جوزي رحمه الله په خپل تفسير " زاد المسير في علم التفسير " کې د تزکی په تفسير کې پنځه اقوال نقل کړي ، حضرت ابو سعيد خدري ددې معنی دا کوي : (مَنْ أَعْطى صَدَقَةَ الفِطرِ) بيشکه هغه کس کامياب شو چاچی سرسايه ورکړه.
علامه قرطبي رحمه الله هم په خپل تفسير کې ددې ايت په تشريح کې ډير اقوال نقل کړي، د ځني صحابه کرامو او تابعينو قول دا هم دی چې د تزکی نه مراد سرسايه ده

امام بيهقي رحمه الله په " السنن الكبرى" کې دا روايت نقل کړی چې حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما به فرمايل : نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: ﴿ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّى وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى فِي زَكَاةِ رَمَضَانَ .دا آيت قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّى ... د سرسايې په باره کې نازل شوی . حضرت نافع رحمه الله فرمايي چې کله به حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د اختر په ورځ د سهر مونځ اوکړو نو ماته به يې اوفرمايل :

يَا نَافِعُ : أَخْرَجْتَ الصَّدَقَةُ ای نافع ! تا سرسايه ويستې ده؟

که ما به ورته وويل چې آو ما سرسايه ورکړې ده نو د اختر مانځه ته به لاړو ، او که ما به ورته وويل چې ما تر اوسه سرسايه نده ورکړې نو راته به يې وفرمايل:فَالْآنَ فَأَخْرِجُ ، فَإِنَّمَا هُذِهَ الْآيَةَ فِي هُذَا قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ ) اوس سرسايه أو باسه ، ځکه دا آيت " قد أفلح .... د سرسايې په باره کې نازل دی

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:(عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- زَكَاةَ الْفِطْرِ طُهْرَةً لِلصَّائِمِ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِينِ) سنن أبی داود
ژباړه: عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمايي رسول الله صلی الله علیه وسلم صدقه فطر دروژتي دباطلو او ناوړه خبرو څخه د پاکوالي لپاره لازم کړې ده اوهم د مسکینانو د خوراک لپاره واجب کړې ده.

## د سرسايې نه ورکولو نقصان:

په کوم مالدار باندې چې سرسایه واجب وي او دا يې نه ادا کوي نو د داسې کس روژه معلق وي،صحیح طريقې سره نه قبليږي . ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې دا حديث ذکر کړی :شَهرُ رَمَضَانَ مُعَلَّقٌ بَينَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَا يُرْفَعُ إِلَّا بِزكاةِ الفِطر)مرقاة

ژباړه:- د رمضان میاشت )یعنی روژې (د آسمان او زمکې په مینځ کې مُعلق(زوړندې) وي دا پورته د قبولیت د پاره نه خیجي مگرکله چې سرسایه ورکړي نو بیا قبولې شي.
نوټ:- اګر چې دې حدیث ته علماؤ ضعیف ویلی خو بیا هم سرسایه واجب ده، ورکول لازمي دي.
د انسان نه دا هر څه پاتې دي.
د مسلم شریف حدیث دی،رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:(يَقُولُ الْعَبْدُ مَالِي مَالِي. وَإِنَّمَا لَهُ مِنْ مَالِهِ ثَلَاثٌ : مَا أَكَلَ فَأَفْنَى ، أَوْ لَبِسَ فَأَبْلَى أَوْ أَعْطَى فَاقْتَنَا مَا سِوَى ذَلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ وَتَارِكُهُ لِلنَّاسِ ).
بنده وايي چې دا زما مال دی ، دا زما مال دی حالانکه دده مال صرف درې (۳) شیان ۱ هغه چې وې خوړو او ختم يې کړ .۲ يا هغه چې وايې غوست او زوړ يې کړو ، . او يا هغه چې د الله جل جلاله په لاره کې يې چا فقير او حاجتمند ته ورکړو او د خپل ځان دپاره يې د قيامت ذخيره جوړه کړه ، او ددينه علاوه چې څه دي نو دا ورنه تلونکې دی ، او نورو ته دي:
يې پريږدي ( يعنی ددي باقي مال نه دې لاړ او دايې وارثانو ته پاتې شو. لهذا چاته چې الله تعالی مال ورکړې وي نو هغه دې د خپل مال نه فرضي او واجبي حقوق ضرور أوباسي، سرسایه هم واجب ده، دا په پابندی سره پوره ورکول په کار دي)

## ده صدقة الفطر(سرسایه)احکام:

صدقه فطر(سرسایه)دهغه واجبي صدقې څخه عبارت دی چې مسلمان يي دکوچني اخترپه ورځ دزکات مستحقینو ته ورکوي.(نورالایضاح)

## حکم او د مشروعیت دلیل:

د فطر زکات پر ټولو وس لرونکو مسلمانانو واجب ده.
رسول الله صلی الله علیه وسلم د اختر لمانځه ته د وتلو نه وړاندی د صدقه فطر ورکولو امر کړی دی.
البته که چیری څوک صدقه فطر دکوچني اختر ورځ څخه مخکې د روژې میاشت په نورو ورځو کې ورکړي هم جواز لري.
د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی، حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهمافرمايي : فَرَضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ تمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ عَلَى الْعَبْدِ وَالحُرِ، وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى وَالصَّغِيرِ وَالكَبِيرِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، وَأَمَرَ بِهَا أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ .
ژباړه:- رسول الله صلی الله علیه وسلم په مسلمانانو کې په هر غلام آزاد ، نارينه زنانه . وړوکي او غټ باندې يوپيمانه خرما يا يو پيمانه أوربشې د رمضان سرسایه فرض ( يعنی لازم او واجب ) گرځولې ده، او نبي علیه السلام د سرسايې په باره کې دا حکم هم کړی چې دا دې وړوکي اختر مانځه ته د تللو نه مخکې ادا کړې شي .

**د زکات فطر د مشروعیت حکمت:**

د هجرت په دوهم کال صدقه فطر په خلکو واجب شوه.

صدقه فطر(سرسایه) د لاندې حکمتونو په اساس واجب شوی ده:

**۱-** د روژتي دپاکوالی او دروژو دخلل جبیره: صدقه فطر(سرسایه) ددې لپاره واجب شوی ده؛ ترڅو د صدقه فطر په ورکولو سره دروژتي هغه خطاګانې او ګناهونه وبښل شي چې د روژو په دوران کې ورڅخه صادر شوي وي او سرسایه د هغه خلل لپاره جبیره شي چې د روژو په وخت کې واقع شوي وي.

**۲-** د مسکینانو اوفقیرانو سره همکاري: صدقه فطر ددې لپاره واجب شوی ده؛ ترڅو دمسکینانو اوفقیرانو سره د اختر په ورځ مرسته وشي او دوی هم د نورو خلکو په څیر داختر خوښي او خوشحالي وڵمانځي او داختر په خوښیو کې یې شریک شي. ځکه که چیرې مسکینانو اوفقیرانو ته سرسایه ورکړل شي ددوی څخه دفقر غم کمیږي او په ژوند کې یې خوښي رامنځ ته کیږي. همدې فلسفې ته په لاندې حدیث شریف کې اشاره شوی ده.

(عن بن عمر قال:فرض رسول الله صلی الله علیه و سلم زکاة الفطر وقال أغنوهم في هذا الیوم) سنن الدارقطني ژباړه:

دعبدالله ابن عمررضي الله عنهما څخه روایت دی؛ هغه فرمایي: پیغمبرعلیه السلام صدقه فطر فرض کړی ده او فرمایلي یي دي چې د اړمنو اړتیاوې په دې ورځ کې پوره کړئ.

**د صدقه فطر دوجوب شرطونه:**

**۱-** صدقه فطر(سرسایه)په هر هغه آزاد مسلمان باندې واجب ده چې د زکات دنصاب په اندازه مال ولری او داصلي حاجتونو څخه یي زیات وي. ضرور نه ده چې کال ورباندې تیر شوی وي.(نورالایضاح)

**۲-** صدقه فطر داخترو ورځې صبح صادق په ختلو سره واجبیږي. که چیرې ددې ورځې څخه څوک مخکې مړ شوی وي په هغه باندې صدقه فطر نشته.

**۳-** صدقه فطر داختر له ورځ څخه مخکې ورکول هم جواز لري؛البته مستحب داده چې اختر لمانځه ته د وتلو څخه مخکې ورکړل شي.

**۴-** صدقه فطر چې په چا باندې واجب شوه دهغه دمال په لمنځه تللو سره، صدقه فطر دهغه له ذمې څخه نه ساقطیږي.(نورالایضاح)

**۵-** صدقه فطر دخپل ځان او دصغیرانو اولادونو څخه ورکول کیږي. دبالغ اولاد صدقه فطر ورکول په پلار واجب نه ده او دښځې صدقه فطر په خاوند واجب نه ده؛ البته د بالغ اولاد اوښځې څخه صدقه فطر ورکول هم جواز لري.( البحر الرائق)

**د صدقه فطر(سرسایه) اندازه :**

**صدقه فطر دڅلور ډوله خوراکی توکو څخه ورکول کیږی:**

**۱-** نیمه پیمانه غنم یا د نیمه پیمانې دغنمو اوړه ( د۱۹۰۰ ګرام) یعنی یو کلو اونهه سوه ګرامه.

**۲-** یوه پیمانه وربشې یا یوه پیمانه د وربشو اوړه( ۳۸۰۰ګرامه) یعنی دری کلو او اته سوه ګرامه.

**۳-** یوه پیمانه خرما (۳۸۰۰ګرامه) یعنی دری کلو او اته سوه ګرامه.

**۴-** یوه پیمانه ممیز (۳۸۰۰ګرامه) دری کلو او اته سوه ګرامه.

- غوره داده چې ددغو اجناسو قیمت ورکړل شي؛ ځکه اړمن خلک کولای شي خپلی اړتیا وې په پیسو سره رفع کړي. (البحر الرائق، نورالایضاح)

- همدا راز که چیرې احتیاطا د غنمو یا دغنمو د اوړو د(۱۹۰۰گرامه) مقدار په ځای پوره ددوه کیلو غنمو قیمت ورکړل شي یاد یوې پیمانې وربشو(۳۸۰۰ گرامو) په ځای پوره دڅلورو کلو قیمت ورکړل شي بهتره به وي.
- د هغه کسانو لپاره چې توان یي لرې بهتره داده چې دهغه جنس قیمت ورکړي چې په بازار کې یې نرخ لوړ دی.

**د صدقه فطر (سرسایي) مستحقین:**

د صدقه فطر(سرسایي) مستحق هماغه دفرضي زکات مستحقین دي(فقیران، مسکینان، د زکات راټولوونکی، قرضداران، فقیران مجاهدین او مسافرین).

بهتره داده چې هغه کسانو ته ورکړل شي چې مستحق هم وي اوخپلوان هم وي او یا په نږدی ګاونډ کې وي په دې شرط چې خپل منځ کې یو دبل اصول او فروع نه وي.

صدقه فطر داختر په ورځ ماشومانو ته داختر په عیدي کې ورکول درست کار نه دی.

**دوهمه برخه:د ليلة القدر اهتمام:**

**د قرآن کریم نزول:**

په دې لسو ورځو او شپو کې یوه داسې مبارکه شپه ده چې په دې شپه کې قرآن کریم د لوح محفوظ څخه اسمان دنیا ته نازل شوی الله جل جلاله فرمایلي دي:إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنْذِرِينَ} الدخان:(۳)

ترجمه:- مونږ دا قرآن کریم نازل کړی په مبارکه شپه کې، بیشکه مونږ ویره ورکونکي یو.

د سورت قدر په لومړي آیت کې راځي:{إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ} القدر:(۱)

ترجمه:- مونږ قرآن کریم د قدر په شپه کې نازل کړی دی.

علامه نووي رحمة الله علیه د لیلة القدر " متعلق لیکلي دي چې لیلة القدر د کال په ټولو شپو کي افضله شپه ده. او لیلة القدر به تر قیامته پوري راځي او دا شپه د دې امت د خصوصیاتو څخه ده او تیرو امتو ته الله تعالی دا فضیلت نه و ور په برخه کړی لکه د سورة القدر د شان نزول څخه هم دا معلومیږي لکه ابن کثیر د ابن ابي حاتم څخه یو روایت را نقل کړی دی چې یوه ورځ پیغمبرعلیه السلام د بني اسرائیلو د څلورو کسانو ذکر کوی هغه څلور کسان دا دي:

حضرت ایوب علیه السلام؛ حضرت زکریا علیه السلام؛ حضرت حزقیل بن العجوز علیه السلام. . حضرت یوشع بن نون علیه السلام. چې دې څلورو کسانو اتیا کاله د الله تعالی داسې عبادت وکړئ چې د سترګو د رپ مقدارېې د الله تعالی نافرماني ونه کړه. صحابه کرامو چې دا خبره واوریده نو د دوی د عبادت پر کثرت یې ډیر زیات تعجب کوی او د خپلو عمر په کم والي یې ډیر افسوس وکړ او دا یې تمنی وه چې کاش زموږ عمرونه هم دومره زیات وای چې موږ په هغه کي زیات عبادت کړی وای نو الله تعالی د دوی د تمنی پوره کولو په خاطر باندي جبرائیل علیه السلام را و استوئ چې ای پیغمبره ستا صحابه کرام د هغه څلورو کسانو پر اتیا کاله عبادت او په دې اوږده زمانه کي د الله تعالی پر نافرمانی نه کولو باندي تعجب کوي او د هغه د حاصلولو تمنی کوي. الله تعالی پر تا باندي د دې څخه بهتره یو سورت را نازلوي، نو جبرائیل علیه السلام د پیغمبر په مخکي د (انا انزلناه في لیلة القدر) سورة تلاوت وکړ چې د هغه په

ذریعه سره یې پیغمبر ته دا لوی زیری ورکړئ چې تا ته او ستا امت ته چې الله تعالی کوم سورت په نصیب ورکړی. دا د هغه شي څخه چې تا او ستا صحابه و و پر هغه باندي تعجب کوئ او د هغه د - حاصلولو موتمنی کوله ډېر عظیم دی، پر دې عظیم سعادت او عظیمه خوش خبري باندي پیغمبر او صحابه کرام ډېر زیات خوشحاله سول.

چې الله تعالی په دې لسو شپو او ورځو کې داسې شپه پیدا کړی ده چې په دغه شپه کې عبادت د دری اتیا کلونو له عبادت څخه غوره دی چې دا ډیر لوی فضیلت دی.

الله جل جلاله فرمایلي دي:{ إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ* وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ* لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ* تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ *سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ }القدر:(۱-۵)

ترجمه:- مونږ دا نازل کړ په شپه دقدر کې او ته څه پوهه شوی چې څه ده شپه دقدر، شپه دقدر ښه ده تر زرو میاشتو(١٠٠٠) څخه، نازلیږي ملائکې او روح( جبریل) په دې کې د خپل رب په حکم سره ، (دغه شپه ) سلامتیا ده دغه (شپه) تر سبا ختلو پورې ده .

یعنی دملائکو سره د هغه کارونو فیصلی په لاس کې وي چې په راتلونکي کال کې کیدونکي دي. د همدې وجې نه ځینې علماء وایي چې (قدر) د حکم او تقدیرپه معنا ده یعنی د حکم او تقدیر شپه. لکه څرنگه چې د الدخان په سورت کې راځي:{ فِيها يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ} الدخان: (٤)

په دغه شپه کې فیصله کیږي دهغه کارونو چې په راتلونکي کال کې پیښیدونکي وي لکه رزقونه او اجلونه .تفسير الماوردي - النكت والعيون (٥/ ٢٤٥)

**ليلة القدر شپه زیات فضیلتونه لري:**

لومړی:- په دې شپه کې قرآن کریم نازل شوی دی.

دوهم:- د ليلة القدر په شپه کې د راتلونکي کال فیصلې ملائلکو ته ورکول کیږي کوم چې په لوح محفوظ کې لیکل شوی وي.

دریم:- دا مبارکه شپه ده.{إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ }.

څلورم:- ليلة القدر شپه دزرو میاشتونه چې تقریبا ٨٣کلونه کیږي غوره او بهتره ده.

پنځم:- د ليلة القدر په شپه کې زمکې ته ملائکې دجبرائیل علیه السلام سره یوځای د خیر او برکت لپاره راښکته کیږي.

شپږم:- د ليلة القدر په شپه کې عبادت کوونکی د هر ډول عذاب څخه په امن کې وي.(سلام هی حتی مطلع الفجر)

اووم:- چاچې د ليلة القدر شپه کې دایمان او ثواب په نیت سره عبادت وکړ، تیر گناهونه به یې وبښل شي.

اتم:- چاچې د ليلة القدر په شپه کې عبادت وکړ په حقیقت کې خیر ورته ورسیده او څوک چې په دې شپه کې د عبادت څخه محروم شو،دخیر څخه محروم شو، لکه څرنگه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا حَضَرَ رَمَضَانُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ جَاءَكُمْ رَمَضَانُ شَهْرٌ مُبَارَكٌ افْتَرَضَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ تُفْتَحُ فِيهِ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ وَتُغْلَقُ فِيهِ أَبْوَابُ الْجَحِيمِ وَتُغَلُّ فِيهِ الشَّيَاطِينُ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ مَنْ حُرِمَ خَيْرَهَا فَقَدْ حُرِمَ) مسند أحمد

ژباړه:- ابوهريره رضي الله عنه فرمایي کله به چې رمضان میاشت راغله پیغمبرعلیه السلام به وفرمایل: بیشکه د رمضان میاشت تاسو ته راغله ، دا یوه مبارکه میاشت ده ، الله تعالی ددې میاشتې روژې پرتاسو فرض کړی دي، په دې میاشت کې د جنت دروازې خلاصیږي او دجهنم دروازې بندیږي او په دې میاشت کې شیطانان تړل کیږي. په دې میاشت کې یوه داسې شپه ده چې د زرو شپو څخه بهتره ده، څوک چې ددې شپې له خیر څخه محروم شو، هغه دخیر څخه محروم شو.

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې د ليلة القدر شپه د روژې په اخیري لسو ورځو کې وپلټئ ،پیغمبرعلیه الصلاة والسلام هم خلک ددې ورځې لټولو ته هڅولي دي.(عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- يُجَاوِرُ فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ وَيَقُولُ تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ) البخاری

ژباړه:- عائشه رضي الله عنها فرمایي: پیغمبرعلیه السلام به په رمضان المبارک کې په مسجد کې اعتکاف کولو او ویل به یې: ولټوئ د ليلة القدر شپه د روژې په اخیري لسو ورځو کې .

ددې حدیث په اساس ویلی شو چې د ليلة القدر شپه د روژې په اخیري لسو ورځو کې راځي؛ خو په یقیني توگه هغه شپه معلومه نه ده البته په روایاتو کې راځي چې د روژې میاشتې په اخیري لسو طاقو شپو کې ده.

په یو روایت کې داسې راځي: (فَالْتَمِسُوهَا فِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ، وَالتَمِسُوهَا فِي كُلِّ وِتْرٍ) صحيح البخاري

ژباړه:- ولټوئ د قدر شپه د روژې په اخیري لسو کې او وه یي لټوئ په طاق شپو کې.

په دې کې هیڅ شک نشته چې ليلة القدر په هر رمضان کې راځي . بیا په رمضان کې په آخري عشره کې په طاق شپو کې راځي . د بخاري شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : تَحَرُّوا لَيْلَةَ الْقَدْرِ في الوترِ مِنَ الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ

مِنْ رَمَضَانَ. تاسو ليلة القدر د رمضان په آخري عشره کې په طاق شپو کې تلاش کوی په مسلم شريف کې هم ذکر دي ... فَاطْلُبُوهَا فِي الْوِتْرِ مِنْهَا.

تاسو ليلة القدر درمضان په آخري لسو طاقو شپو کې اولټوی

طاق شپې :- د رمضان د آخري عشرې د طاق شپو نه مراد : يوويشتمه (٢١) شپه درويشتمه (٢٣) شپه پنځه ويشتمه (٢٥) شپه اووه ويشتمه (٢٧) شپه ، او نهه ويشتمه (٢٩) شپه مراد دي.

يعنی په دې طاق شپو کې يوه شپه د ليلة القدر راځي . د دوه مسلمانانو د جګړی په وجه د نبي الله نه د ليلة القدر دتعين علم پورته کړی شو د بخاري شريف حديث دی، حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه فرمايي :(عَن عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يُخْبِرُ بِلَيْلَةِ القَدْرِ، فَتَلاَحَى رَجُلاَنِ مِنَ المُسْلِمِينَ فَقَالَ: «إِنِّي خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ بِلَيْلَةِ القَدْرِ، وَإِنَّهُ تَلاَحَى فُلاَنٌ وَفُلاَنٌ، فَرُفِعَتْ، وَعَسَى أَنْ يَكُونَ خَيْرًا لَكُمْ، التَمِسُوهَا فِي السَّبْعِ وَالتِّسْعِ وَالخَمْسِ»بخاری.

ژباره:- نبي کريم صلی الله عليه وسلم بهر ته تشريف راوړو ، ددې د پاره چې مونږ ته د ليلةالقدر( د تعين ) په باره کې خبر راکړي، پس په دې وخت کې ) د دوه مسلمانانو په خپل مينځ کې جګړه شوه ، نبي عليه السلام وفرمايل : زه ددې د پاره را ووتم چې تاسوته دليلة القدر په باره کې خبر درکړم (يعنی درته معينه يې کړم، خو فلاني او فلاني کس جګړه اوکړه . پس ( د دوی د خلاصي په وجه د مانه د ليلة القدر تعين پورته کړې شو، او کيدې شي ستاسو د پاره همدا بهتره وي پس تاسو دا په نهه ويشتمه (٢٩) شپه اووه ويشتمه (٢٧) شپه او پنځه ويشتمه (٢٥) شپه کې او لټوی.

فائده : پيغمبر عليه السلام ته په معينې طريقې سره دا خودلې شوې ده چې ليلة القدر په کومه شپه راځي، خو د دوه مسلمانانو د جګړې په وجه د نبي عليه السلام : ذهن نه ددې شپې د تعين علم پورته کړې شو .

په جګړو سره برکتونه او رحمتونه ختميږي ددينه معلومه شوه چې جګړه

دومره بد شی دی چې ددې په وجه د ليلة القدر تعين پورته کړې شو .همدارنګې د جګړو په وجه انسان د ډيرو برکتونو او رحمتونو نه محرومه کيږي:مسلمانانو اتفاق او اتحاد هم ختميږي الله رب العزت فرمايي:{وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ }آل عمران(٤٦)

ترجمه:- او تاسو په خپل مينځ کې د يو بل سره جګړه مه کوئ ،ګني بزدله به شی،اوستاسو رعب (او قوت )به لاړشي (يعنی ختم به شي).

## الله جل جلاله اهم ځيز پټوي:

د الله جل جلاله عادت داسې را روان دی چې کوم ځيز ډير آهم وي هغه الله پټ ساتلی ، لکه اسم اعظم الله تعالی پټ ساتلی همدغه شان د جمعې په ورځ يو خاص وخت د دعا قبليد و دی هغه هم الله تعالی پټ ساتلې دی. ليلة القدر هم آهمه شپه ده ، داهم الله تعالی پټه او ساتله امام رازي په تفسير کبير کې ددې خبرې پوره تفصيل بيان کړی

## د قدر شپې ځانګړې دعا:

(عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ إِنْ عَلِمْتُ أَيُّ لَيْلَةٍ لَيْلَةُ القَدْرِ مَا أَقُولُ فِيهَا؟ قَالَ:" قُولِي:اللَّهُمَّ إِنَّكَ عُفُوٌّ تُحِبُّ العَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي) سنن الترمذي ت شاکر

ترجمه:- له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې ما پيغمبرعليه السلام ته عرض وکړ. ای د الله جل جلاله رسوله! که چيری را معلومه شي چې دا دقدر شپه ده نو درب العالمين په دربار کی څه و وايم او کومه دعا وکړم؟

حضور صلی الله عليه وسلم و فرمايل: دا دعا ووايه: ( اللهم انک عفو کريم تحب العفو فاعف عني) ، يا الله په رښتيا چې ته بښونکی کريم ذات يی او عفو خوښوی نو زما خطاګانې و ببښه.

په همدی خاطر د الله د ډيرو نيکو بندګانو عادت دادی چې هره شپه دغه دعا وايي او د رمضان مبارکې مياشتي په شپو کې خصوصاً د وروستی لسيزې په طاق شپو کې زياته توجه او اهتمام ورته کوي نو راشئ چې مونږ هم دغه دعا هيره نکړو.